سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

اراده

د افغان نشراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال سوم شماره سوم
شماره مسلسل ۸۴
سه شنبه ۱۰ جدي ۱۳۸۱ هـ ش
۲۷ شوال المکرم ۱۴۲۲ هـ ق
۳۱ دسمبر ۲۰۰۲ م

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

از رسایی تا نارسایی

آیا اداره، انتقالی تا پایان دوره، کار اش خواهد توانست بر چالش های موجود که تاکنون، با عمده ترین آن ها کج دار و مریز و بعضاً با مدارا عمل کرده است، فایق آید، پروگرام خلع سلاح را تطبیق کند، اردوی ملی را شکل دهد و زمینه ساز برگزاری انتخابات عمومی و آزاد در کشور گردد؟

چرا اگر حرکت را با جسارت همراه سازد و از فراز "تزاکت سنجی ها" و "مصلحت بینی ها" بر جهد، آنچه که از زمان مانده، برای اجرای آن همه عهد و پیمان های بسته در برابر مردم و نماینده گان مردم در لویه جرگه کافی است.

هر چند که اجراات اداره انتقالی در برخی از ساحات حیات سیاسی، اقتصادی از جمله تأمین تمامیت ارضی، بیرون آوردن کشور از انزوای بین المللی و تامین روابط نیک و حسنه با دیگر ملل جهان. بر چیدن پول های دوران جنگ با نشر و پخش بانکنوت های جدید، جلب کمک های جهانی به خاطر بازسازی با موفقیت های همراه بوده است، ولی در مواردی هم سستی ها و کاستی ها در کار های که بایستی تاکنون انجام می یافت مشهود بوده است.

زاییده ناپرسی و کمتر پرسی از اجرای امور، بی تفاوتی و سهل انگاری است که متاسفانه سراپای حیات جامعه را در خود پیچیده، که باز ده جز رشوت اختلاس، زور گویی و زیاده گویی نداشته و موازی با این کوتاهی مسأله تعیین و نصب کارمندان ادارات که بیشتر بر مبنای روابط بوده است تا ضوابط، نه تنها سطح باز دهی و کیفیت ها را پایین آورده است، بلکه پیدایش گروه ها و دسته های را با منافع مشترک از بالا تا به پایین به شکل زنجیره ی سبب شده است تا حدی که کسی را اجازه نمیدهند یا کسی جرأت آنرا نمی کند که بگوید "آقا روی چشم شما ابروست" بی خیال روی چشمه های اقتصادی که متعلق به عامه، مردم است چمپاته زده و جوی ها و جویچه های را به کاریز های که منتهی به منازل و قصر هایشان در داخل و خارج کشور میشود، کشیده اند و خود قانون و قانون گذار و مجری قانون گشته اند.

آنچه از نارسایی ها و نا شده ها و انجام نیافته ها گفتیم مثال های آن عملاً و علناً در جامعه به طور گسترده موجود اند و شاهدان ادعا های ما، مردم اند، مي خواهید ثابت کنید. پس بروید ببینید، بپرسید که برای دیدن و شنیدن چشم تان بینا و گوش تان شنوا باد!

غلام غوث

د بی وسلې کولو پروګرام بیا پیل شو

ملګرو ملتونه وایي چې دوی د افغانستان په شمال کې د بې وسلو کولو پروګرام بیا له سره پیل کړ، د ملګرو ملتونو د مرستو رسولو ویاند ډیریډ سنګ وویل چې د سی شنبې په ورځ یو سل او څلویښت میله وسله چې اتیا میله ټوپك او پاتې شپیته میله یې سپکه او درنه وسله وه د قوماندان عطا محمد تر نظر لاندې د سمنګان ولایت د خلم په ولسوالی کې ټوله شوه ښاغلي سنګ زیاته کړه جنرال عبدالرشید دوستم ورسره منلي چې په نورو څلورو سیمو کې د بې وسلې کولو (۴ مخ)

تطبیق دموکراسی در کشور مان از برکت مساعی شباروزی ترافیك در جاده های شهر کابل آغاز گردیده، بدین معنا که سواره و پیاده بی هیچ اندیشه و دلهره یی از جاده های عمومی برای گشت و گذار آزادانه و بی قید و شرط استفاده کرده میتوانند.

د فرانسی پولیسو یو شکمن کس ونیوه

د فرانسی پولیسو د پاریس د ښار دوګل د هوائی ډګر یو کارکوونکی د دوو ماشین ګنو، پلاستیکی چاویدیدونکو موادو او د بمونو د چاودولو د وسایلو سره چی ټول ئی په موټر کی پټ کړی وو نیولی دی.
پولیس وائی دغه اوه ویشت کلن الجزایری اصله سړی د شنبی د ورځی را هیسی په توقیف کی دی، امنیتی مقامات وائی دغه سړی د شنبی په ورځ وروسته له هغې د خپل موټر سره ونیول شو چی یوه سړی ریوټ ورکړ چی د هغه د موټر د ټول بکس څخه د وسلی خوله را وتلی او هغه لیدلی ده.

دو عسکر امریکایی زخمی شد

سرباز امریکائی که در مناطق شرقی در یک برخورد از ناحیه سر زخم برداشته بود، دیروز به آلمان انتقال یافت.
این سرباز که در نزدیکی سرحد پاکستان در یک رویاروئی مسلحانه زخمی گردیده بود، قبل از آنکه غرض تداوی به آلمان انتقال گردد، به میدان هوائی بگرام آورده شده بود.
طی دو روز گذشته این دومین سرباز امریکائی است که از ناحیه سر زخمی میگردد. روز شنبه یک سرباز قطعه ۸۲ هوائی امریکا در ولایت کندهار شدیداً زخمی گردیده بود.
امریکائی ها میگویند، سرباز زخمی شده در قندهار از اثر فیر دشمن زخمی نگردیده است، در مورد زخمی شدن وی تحقیقات جریان دارد.

د دوه میلیونو راستانه شوو هیواد والو اړتیاوی

د ملګرو ملتونو د مهاجرینو عالی کمیشنری اعلان کړه چې راستانه شوی کډوال عاجلو مرستو ته اړتیا لري او د دې تر څنګ د بیا رغاونې پروژې چې د کډوالو لپاره د کار یواځیني مراجع دي په ډیرې سستی سره روانې دي. د ملګرو ملتونو د مهاجرینو د چارو د څانګې ویاند "ماتي شینو هاري" ویلي دي چې په تیر یو کال کې یو عشاریه اته میلیونه کډوال د بهرنیو هیوادونو څخه او کابو نیم میلیون بی ځایه شوی هیوادوال خپلو سیمو او استوګنځایونو ته راستانه شوی دي چې دا راستنیدنه د مهاجرینو او کډوالو په تاریخ کې ساری نه لري. ښاغلي شینوهاري د بیا رغاونې په پروژو نیوکه کوي چې په ډیره سستی سره پر مخ روانې دي په ډاګه کوي چې باید د کډوالو لپاره د بیا رغاونې پروژې د کار د پیدا کولو په اړخ کې پاخه تدابیر ونیسي ترڅو راستانه شوی کډوال دسرګونو او، اوبه خور د بیا جوړولو په کارونو کې په کار بوخت شي.

دلوی او ښونکی خدای په نامه

سرمقاله

زمستان می گذرد اما ...

زمستان سرد کابل در پهلوی فقر، بیکاری، بی نوایی و بی مددگاری، بی امنیتی و دها درد مصیبت زای دیگر گلو گیر باشنده گان این شهر که عملی شدن وعده های امروز و فردا، زنده گی شان را به باد تمسخر سپرده، گردیده است.

باشنده گان این شهر با زمستان در شرایطی دست و گریبان اند که نه تنها مسوولین امور دولتی غیر مسولانه تر از هر زمانی در رابطه با مسوولیت های شان اندیشیده و عمل می کنند، بلکه سازمان های نام نهاد امداد رسانی بین المللی و موسسات تمویل کننده (بلاعوض و سود طلبانه) هر دو با منفعت جویی های آزمندانه پروسه بازسازی کشور افغانها را در خود سازی خویش خلاصه کرده اند. تامین انرژی برق برای شهریان کابل از ضرورت های مبرم و حتی حیاتی پنداشته می شود که با دریغ و درد هر دو نهاد "خدمتگذار!" شیوه رسانیدن "تریاک از عراق" با پای پیاده را در رابطه با آن در پیش گرفته اند، مسوولین وزارت آب و برق صرف و صرف خاطر خواهی حلقات خاصی را مسوولیت خویش دانسته و چنان به بذل و بخشش این سرمایه ملی مبادرت می ورزند که گویی خود با ابله کف دست و عرق جبین و بکار انداختن سرمایه های میراثی حاصل کننده و مالک، آن گردیده اند و بناءً حق دارند آنرا به هر که لازم دانند لطف کنند.

همچنان موسسه تمویل کننده و متعهد در فعال ساختن شبکات برق حرارتی با آنکه از هر (سنت) مصرف شده در این پروژه سود می خورد، با بهانه تراشی های چون باید تیل از طریق فلان بندر وفلان سرک و فلان شهر گذشته به کابل برسد، از دو ماه بدینسو (در غم چربو) قصابانه می کوشد. بهر صورت این زمستان چون زمستان های دیگر هم می گذرد اما بدا بحال ذغال که ....

سه داکتر امریکائی به قتل رسید

گزارش های رسیده از شهرسنا پایتخت کشور یمن میگوید، دو داکتر مرد و یک داکتر زن از اثر فیر های ماشیندار خفیف به قتل رسیدند و یک دواساز امریکائی زخمی گردید.
این حادثه در جنوب یمن در یکی از شفاخانه های تبلیغ مسیحی رخ داد.
مسوولین امنیتی یمن میگویند حمله کننده که دستگیر گردیده به یکی از احزاب اسلامی مخالف وابسته است.

په ترکیه کی د نه خوړلو د اعتصاب بوږنونکی حالت

ترکیه کی په تیرو دوه کلونو کې څه د پاسه پنځوس کسان د نه خوړلو اعتصاب له امله مړه شوی دي دا شمیره په ټوله نړی کې بې بیلګې ده. د نه خوړلو اعتصاب له امله مړه شوی کسان د ترکیې د حکومت مخالف کسان دي چې تر بندیکیدو وروسته ئي په دغه کار لاس پورې کړي او پایله یې مرګ دی. فریده هارمان هغه څلرویشت کلنه ښځه وه چې په ۱۹۹۶م کال کې ونیول شوه دا ښځه د کیڼ اړخي ګوند "د خلکو د انقلابي سازمان" غړي وه هارمان په دسمبر کې د خپل اعتصاب له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ.

امریکا به شمالی کوریا ته هیڅ ډول امتیاز ورنکړی

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د شنبې په ورځ د ایم. بی. سی تلویزیون ته وویل، چې شمالی کوریا بده لاره نیولی ده هغه زیاته کړه که هه هم په دې شپو ورځو کی د شمالی کوریا سره تاوتریخوالی ډیر شویدی خو د متحده ایالاتو حکومت په دیپلوماسی باندی ټینګار کوی.
هغه وویل:
موږ د ناڅاپی حملی نیت نه لرو متحده ایالات د (۴ مخ)

صدام حسین له خپلو ملګرو سره پټه غونډه وکړه

صدام حسین د یکشنبې په ورځ د هغې غونډې مشري وکړه چې د عربو د سیمه ایزو او نړیوالو مسئلو د څیړلو لپاره جوړه شوي وه. د عراق د خبری آژانس په لومړی حواله په دغه غونډه کی د صدام مرستیال عزت ابراهیم، ولسمشر مرستیالانو طحی یاسین رمضان، طحی محی الدین معروف، د وزیر مرستیال طارق عزیز، د پارلمان ویاند سعد الحمادی د بهرنیو چارو وزیر ناجی الصبري، د اطلاعاتو وزیر محمد سعید شهی د عدلیې وزیر منظر الشواهی او د عراق د انقلابي شورا د قوماندانی مهم غړي الحسن المجید برخه درلوده خو د عراق خبري آژانس د غونډې جزئیات نه دي په ډاګه کړي.

افزون از یکهزار و چهارصد زن و دختر را اموزش داده ایم

محترمه فهیمه همراه مسوول موسسه اوارد ضمن اظهار مطلب فوق به خبر نگار اراده گفت: موسسه اوارد یک موسسه غیر حکومتی است که در سال ۱۹۹۵ شروع به فعالیت نموده و ساحه فعالیت آن (ص ۴)

برای چارصد و پنجاه بیوه زن و دختران نان آور فامیل های شان زمینه آموزش حرفه، و کار را فراهم ساخته ایم.

وعدی ډیری شوی_ عمل په کار دی

د هیواد په ولایتونو کی موجوده ستونزی، خپل سری او وسله والی نښتی د هغه نه ترسره شوی وعدو زیږنده دی چی په لویه جرګه کی او د هغی څخه وروسته د دولتی چارواکو لخوا اولس ته ورکړ شوی وی.

د هیواد لوړ پوړی چارواکی پخپلو وینا وو کی څه په لویه جرګه کی او څه د هغی څخه وروسته دی خبری ته ګوته نیسی، چی دیوه قوی او با ثباته مرکزی دولت، او په ولایتونو کی د خپل سریو او ټوپك سالارانو د واکمنی د ختمولو په صورت کی به مونږ و کولای شو په هیواد کی د ملی یووالی او بیا رغاونی په لورد یادولو وړ ګامونه اوچت کړو او تل دا وایی چی موږ به دغه کار ترسره کړو او په هیواد کی به ملوك الطوایفی او خپلسریو ته د پای ټکی کیږدو.

په یاد مو دی چی په لویه جرګه کی ښاغلی کرزی د خپلی وینا په جریان کی، شهید حاجی عبدالقدیر مخاطب کړ او ورته وئی ویل چی بیا ننګرهار ته نشی تللای، او زیاته ئي کړه چی نور ښاغلی..... به هم زما سره دلته په مرکز کی همکاری کوی او په شریکه به سره کار کوؤ، د وزارتونو د تقسیمولو او هر چاته د خپلو، خپلو برخو د ویشلو څخه وروسته دا معلومه شوه، چی بیا هم دا ښاغلی خپل برمته او په ګرو کی نیول شوی ولایتونه او سیمی په وزارتونو نه بدلوی، او په هیڅ صورت حاضر نه دی چی دغه د سرو زرو چرګان د لاسه ورکړی، خپلو کورنیو ډلو او ټپلو پوری تړلی کسان ئي وزارتونو ته وګمارل، او بیائی په ډیره شکسته نفسی سره وویل چی موږ د خپلو اولسونو خدمت، همدلته کوؤ، موږ ولسونو ته د چوپړ په خاطر حاضر یو چی همدلته والیان پاتی شو.

شمال، شرق، جنوب او غرب د ډیرو وړو او جزئي تغیراتو پرته په هماغه زاړه حال پاتی شو، ټول همدا یو غږ پورته کوی. چی خلك او اولسونه موږ غواړی، موږ خلکو او اولسونو ته د خدمت په خاطر همدلته پاتی کیږو. خو اصلی خبری ته که ځیر شو، دلته د خلکو غوښتنی د اولسونو غږ، د اولسونو آواز هیڅوك هم نه اوری، اولسونه نور د دغو بی تاجه پاچاهانو د نادودو او ناروا څخه په تنګ شوی د یو حزب یوی ډلی، یوکورنی او یوه تنظیم واکمنی نور خلك ستړی کړیدی.

خلك پوښتنی کوی چی که د ګمرك، ترانسپورت. ښاروالیو، او نورو دولتی عایداتی ادارو عایدات په بانك کی تحویل او د مرکزی دولت تر نظارت لاندی تری ګټه واخستل شی او یا د هغوی پوځی قطعاتو، فرقو او قل اردوګانو تعداد معین او معاشونه ئی د یو نظم له مخی مستحقو کسانو ته ورسیږی نو بیا به هم دا ښاغلی دیته حاضر وی چی د خپلو سیمو او ولایاتو د اولسونو خدمت وکړی؟

دوی په خپلو سیمو او ساحو کی د بل هیڅ مداخله نه منی د وزارتونو خو لاڅه چی د هغی څخه د پورته مقاماتو اوامرو ته هم په عمل کی ارزښت نه ورکوی، خو بیا په خوله هر څه منی، په خوله وائی چی مونږ د مرکزی دولت اوامر منو د هغوی د اوامرو سره سم چال چلند کوؤ خو په عمل کی داسی نه ده، همدا ښاغلی بیا وائی چی مونږ په دغو ولایتونو کی اوسیږو، د دغو ولایتونو د چارو په ښه والی مونږ ښه پوهیږو نو باید مرکز زموږ خبرو ته غوږ کیږدی او څه چی موږ وایو باید هغه ومنی. نو په دی توګه دوی غواړی، چی په عمل کی مرکز د هغوی څخه اطاعت. که هره میاشت یا په هر محفل او مراسمو کی د دولت مشران په ولایتونو کی د خپل سریو د ختمولو، ټوپك سالاریو ته د پای د ټکی ایښودلو، د ولایتونو څخه د راټولو شوو دولتی عایداتو مرکز ته رالیږدونه او نورو داسی چارو چی، اولس ئي د هیواد د بیا رغاونی او مرکزی قوی دولت په جوړولو کی مهم او ارزښتناکه بولی وعدی ورکړی او بیائي په عملی کولو کی پاتی راشی، نو دا به په ټولنه کی د دولت د اعتبار د ټیټوالی سبب شی.

په کار ده چی د وطن او وطنوالو ګټی او سوکالی نوره د سازشونو او مصلحتونو قربانی نشی، همدا راز چی د اسلامی دولت لخوا انتقالی دولت ته د واك د لیږدولو د یو کلنی په مراسمو کی د دولت مشرانو د خلکو او اولسونو د زړه خبری وکړی او هغه څه ئي چی د وطن د آبادی او د خلکو د سوکالی هیلی پکی نغښتی وی په ګوته کړی، همدوی دی چی باید د دغو کارونو د ترسره کولو او د ویلو څخه د کولو ډګر ته د ګذار په لار کی بی له ځنډه په ډاډ او اطمینان سره ګام کیږدی، دا کار په سوال او په زاریو نه کیږی او نه هم په تشو خبرو څوك تیروزی ټول اولس، ټول افغانان پخپل هیواد کی د سولی او ثبات، ملی یووالی. بیا رغاونی او د یوه قوی مرکزی حکومت په لار کی چی، ټول افغانستان، د ختیز څخه تر لویدیزه او د شمال څخه تر جنوبه یوی واحدی اداری پوری وتړی او په بیلا بیلو سیمو د بیلا بیلو حکومتونو واکداریو ته د پای ټکی کیږدی ملاتړ کوی.

باتور

هر سړی پیدا دی خپل خپل کار له کنه

هر څوك چیغی وهي چی کار دی اهل ته وسپارل شی، دولت هم دا ناری سوری وهی چی کارپوهان دی متی را ونغاړي تر څو د هیواد په بیا رغاونه کي ونډه واخلي، مګر دغی خبری لا د عمل جامه په سمه توګه نه ده اغوستی، زما په اند بس یوه معما ډوله کلیشه ده چی حل یي بیخی ګونګ دی، عجیبه خبره، د هغه چا په لاس کي چي کوم مقام وي او اهلیت یا وړتیا یی هم و نه لري، دغه جناب هم چیغی وهي چي کار دی "اهل کار" ته وسپارل شي، خو په داسی حال کی چی بیا یو کارپوه او مسلکي شخص یي پر ځای وټاکل شي، کوم څواك به پیدا شي چی نوموړی جناب ګوښه کړي، او پرځای یی دغه کار پوه شخص چی یوازی د قلم څښتن دي، پر مقام کښینوي، دا ډیره د مایوسی خبره ده چي یو شخص د یو ارګان پر سر و بر نه پوهیږي او هغه یی د مشری پر ګدی میختك وي، داسی اشخاص دی خجالتاً له خپلی دندی ځان ګوښه کړي، او که کوم مسلکي او پرکار پوه شخص یی پر ځاي و ګومارل شي، نو په ورین تندی دي ومنی او دغه شخص دی داسی ځای ته لاړ شي چې د ده د خوښی او پوهی وړ کار وی، یانی له خپل استعداد سره سم دی یو کار یا یوه دنده ترسره کړي او دغه کړنه ښایی ډیری ښېګنی را منځته کړي او زموږ د مظلوم ملت ډیري ستونزی به اواری شي، کارونه به یی بی ځنډه، او بی بنده ترسره شي او که داسی و نه شي نو د انارشی جرړی به همداسی پسی غځیږي، پر ځای د دی چی هیواد مو سمسور او آباد شي، ملت مو سوکاله شي، نو هیواد به لا بیرته پاتی شي او ملت به د سوکالی پر ځای لا له نورو زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان شي، کله چی لنډ مهاله اداره واکمنه شوه، د ملت هیلی تاندی شوی ځه که خیر وی، کار به د کار اهل ته وسپارل شي. خو له بده مرغه په سلو کي ایله اته، نهه برخی اقدام وشو، چی په نیست حساب دی، او بیا پسی انتقالی اداره رامنځته شوه، دی ته د خلکو سترګی پر لار وي، خو بیا هم له بده مرغه دغه بهیر ډیر سوړ روان دی، نو د دي لپاره چی په هیواد کی د انارشی او ګډوډی مخه ونیول شي، کارونه ښه پر مخ لاړ شي، انتقالي اسلامي دولت دي د کار پوهانو پر استخدام لاس پورې کړي او پر داسي چارو دي وګوماري چی د دوی له مسلك او پوهی سره سمون ولري، او هغه اشخاص چی د کوم مقام وړتیا او اهلیت و نه لري، له دندی دی ګوښه کړي او پر ځای دی مسلکي شخص وګوماری، او هغه نامسلکي شخص ته دي د نوموړي له استعداد سره سم کار وروسپارل شي، تر څو له وسه ي پوره وي.

دلاور نظیر زی

د ژمي د سختۍ یخنۍ په وړاندې زموږ د اړو خلکو اړتیاوې

کوچنی ماشوم چي پښې او لاسونه یی له یخنی څخه ریږدیدل د خپل نیمه کنډواله کور په دروازه کی ناست و، یوه زړه بوډي چی د سوال لاس یي هر لاروي ته اوږداوه او له یخنی څخه یی ځان په خیرنو او زړو جامو کي پیچلی و د کوځې د یوه دیواله ډډې ته اړخ لګولی و، یو سپین ږیری بوډا چی لکړه یي په لاس کي وه خپل کوچنی لمسی تر لاس نیولی دیوه نانوایي په خوله کي د یوي ډوډی په تمه ولاړ و او یو معیوب ځوان چی یوه پښه او یوه سترګه یی د دین او وطن د خدمت په لار کی له لاسه ورکړی وی لارویو ته حیران حیران کتل او د خپل راتلونکی په باب یی فکر کاوه.

د ژمی سختی یخنی له خلکو یو دوه هیر کړی وو، نری نری باران اوریده چی کله کله به د سپینی واوری څپول هم پکی ولیدل شول، یخ شمال د خلکو څیری په بله اړولی وی او د تنکیو ماشومانو تنکی مخونه یي تك شنه ګرځولي و دا لومړی ژمی و چی د اجمل کورنی له دوو لسیزو وروسته کابل ته راستنه شوی او د کابل د یخنی په وړاندی یی تقریباً خپل مقاومت له لاسه ورکړی و، دوی دومره امکانات هم نه درلود چی د کور د تودولو لپاره لرګی او د ځانونو د ګرم ساتلو لپاره تودی جامی برابری کړي په ژمی کي خو هسی هم کار نه پیدا کیږي او په کابل کی د کار شرایط له کومه شي چي د اجمل پلار او مشر ورور ځانونه پکی مصروف کړي او په دي توګه د خپلی کورنی لپاره ورځنی نفقه او د تودوخی امکانات برابر کړي.

د اجمل د کورنی په شان نوری ډیری داسي کورني هم شته چی ایله یی د وطن غیږي ته ځانونه را رسولی او په دي تمه چی دولتی چارواکي او یا کومه خیریه ټولنه به ورسره مرسته وکړی د ژمی دغه شپي ورځی او لوږی تندي تیروي، کله چی آسمان شین وي نو د دغو کورنیو ماشومان ځکه خوشال وي چی که د شپي یي ساړه کیږي د ورځی خو به د لمر له وړانګو څخه د ځانونو د ګرمولو لپاره استفاده وکړي او په دې ترتیب په لږ تر لږه ورځ ګرمه تیره کړي. خو شته ځینې داسې ډیري کورنی چي په نورو زیاتو امکاناتو برسیره یی تر سهاره پوری له بخاریو څخه دود پورته کیږی مګر یویي هم د خپلو مجبورو ګاونډیانو له حال او کړیدلي ژوند څخه ځان نه خبروي.

کاشکي موږ د خپل وطن د مجبورو او اړو هیوادوالو په حال ځانونه خبر کړو او کاشکي موږ د دی جوګه شو چی لږ تر لږه په وطن کی د کار کولو امکانات تر لاسه کړو ځکه زموږ هیوادوال تر بل هر چا زیات د کار کولو او خولو بهولو شنه زمریان دي. دوی خپلې خولې بهولی شي. خو چاته د سوال لاس نه اوږدوي. دوی لوږې او تندي تیرولی شي، خو د چا د احسان بار ته اوږې نه شي ورکولای او دوی خپلې متې ستړي کولای شي خو له چا څخه د خیر ورکولو تمی ته په زړونو کی ځای نه ورکوي. دوی په دی نه دي روږدي چی د بل چا مرستي ته سترګي ونیسي، خو اوس حالات داسی راغلی دي چی لږ تر لږه باید د دوی او د دوی د ماشومانو د ژوندي پاتی کیدو په اړه فکر وشي او چی د پسرلی په راتګ سره په هیواد کې د کار کولو شرایط برابر شي بیا دوی پخپله هم خپل بار پخپله پورته کولای شي

غروال

پدیده ای بنام حسن همجواری

نمایندگان کشور های همسایه افغانستان برای اولین بار توافقنامه ی امضاء کردند تا بر اساس آن در امور داخلی همدیگر مداخله ننموده و حقوق همسایه داری را با کشور افغانستان محترم بشمارند این توافقنامه که از سوی نمایندگان کشور های همسایه، دولت انتقالی افغانستان و با نظارت سازمان ملل متحد به امضاء رسیده است الزامات و تعهدات مهم حقوقی را برای کشور های همجوار به وجود آورده است. با رویکردی به سیاست های گذشته کشور های همسایه بخصوص کشور های پاکستان و ایران در می یابیم که این کشور ها با وجود پذیرائی از مهاجرین افغانستان، مداخلات آشکاری نیز در امور داخلی افغانستان داشته اند. شرایط نوین سیاسی و تمرکز جامعه جهانی به حل مشکلات افغانستان کشور های را که در سال های گذشته آتش بیاران معرکه های جنگ داخلی افغانستان بوده اند ناگزیر می سازد تا پالیسی خود را با شرایط سیاسی جدید افغانستان تنظیم نمایند. جامعه جهانی متوجه شده است که تحولات سیاسی گذشته افغانستان هیچ کدام ریشه های واقعی در داخل افغانستان نداشته است. پوهنتون الازهر مصر، ایدیالوژی سوسیالیستی شوروی، انقلاب اسلامی ایران و بالاخره سازمان های استخباراتی و مدارس علوم دینی کشور های همسایه هر کدام در ایجاد بحران سیاسی در افغانستان نقش داشته اند.

اختلافات مرزی میان هند و پاکستان اگر چه مسئله داخلی آن کشور ها بوده است اما این اختلاف انگیزه مداخله در افغانستان و امور داخلی آنرا سبب شده بود و این انگیزه به جای رسید که سرزمین همسایگان به صورت یک سرزمین بلاخیز برای مردم افغانستان تبدیل گردد انقلاب اسلامی در ایران و استراتژی صدور آن در برخی کشور ها مقامات مذهبی این کشور را بر آن داشت تا با استفاده از ابزار ایدیالوژیکی، گروه های مشخص را در داخل افغانستان تقویت نموده و عناصری را نیز در پیشبرد مقاصد سیاسی خود در افغانستان تربیت نماید. اگر چه سیاست های ایران در قبال افغانستان اغلب بر اساس استراتژی های مقطعی بوده است اما گروهها و نهاد های مشخص نظامی و سیاسی در ایران وجود دارد که برای مداخله در امور داخلی افغانستان علاقمند هستند. این کشور که بیش از ۹۰۰ کیلومتر مرز مشترک با افغانستان دارد همواره در تلاش بوده است تا با تقویت نفوذ خود در ولایات جنوب غرب افغانستان این مناطق را به صورت کمر بند امنیتی فرامرزی بسازد.

اگر خط مشی سیاست های خارجی دولت انتقالی افغانستان بر اساس یک دیپلوماسی فعال باشد طبیعی است که میزان مداخله کشور های همسایه در امور داخلی افغانستان کاهش خواهد یافت. این توافقنامه باعث خواهد شد تا کشور های همسایه دیگر به صورت پایگاه فعالیت های سیاسی گروه های مخالف دولت د. نیایند اما باید متوجه بود که عملی شدن واقعی این پروسه به موضعگیری های خارجی دولت افغانستان نیز ارتباط می گیرد. حضور برخی مراکز و عناصر افراطی در داخل کشور های همسایه و ارتباط عنکبوتی این نوع مراکز با حلقاتی در داخل افغانستان موضوعی است که آن را باید میراث به جا مانده از سالهای جنگ نامید اما این نوع ارتباط عنکبوتی می تواند اثرات بالقوه در ایجاد بحران های سیاسی در افغانستان داشته باشد.

تجربه نشان داده است که مداخله کشور های همسایه در امور داخلی افغانستان همواره بر اساس استراتیژی های جدا سازی اقوام و ملیت های باهم برادر افغانستان بنا بوده است. آنچه به دولت انتقالی افغانستان مربوط می شود اینست که وحدت ملی و امنیت ملی در افغانستان را به یک دیپلوماسی فعال تبدیل نموده و کشور های همسایه را متوجه سازد که هر نوع تحرک سیاسی بر علیه دولت افغانستان در خاک این کشور ها، اولین دستاوردش مشروعیت مقابله بالمثل برای دولت انتقالی افغانستان خواهد بود.

لومانی

ACKU

اراده

د مخ چلوونکی: حقپال

روغتیا د ټولو لپاره

په کابل کی د سره صلیب روغتون

د کابل په ښار کې د افغانستان طبي علومو اکاډمي تر څنګ د سره صلیب یو روغتون او د معیوبینو سره د مرستې یو مرکز پروت دی چې له ډېرې مودې راهیسې د هغو ناروغانو چوپړ کوي چې په جګړه کې یا هم د ناروغیو له کبله ددوی لاس، پښه او یا د بدن نور غړي معیوب یا فلج شوی وي ددې روغتون د لا پېژندنې لپاره مو دنوموړې روغتون له یو تن چارواکي محترم عبدالله وزیري سره یوه مرکه کړې چې دادی رپوټ یې وړاندې کېږي.

محترم عبدالله وزیري چې په خپله هم معیوب دی د I.C.R.C اواتوسنتر چې د وزیرمحمد اکبر خان روغتون ته څېرمه پروت دی په کال ۱۹۸۸ میلادی کې جوړ شوی. په لومړیو وختونو کې دغه روغتون یوازې مصنوعي غړی جوړول او دا کار یې د هغو کسانو لپاره کاوه چې په جګړه کې به یې خپل د بدن غړی له لاسه ورکړی و خو وروسته تصمیم ونیول شو چې له جګړې څخه پرته ضرورت لرونکی ناروغان هم تر بیا رغونی او احیا لاندې ونیول شي. ددې مرکز یو کار د قالبونو جوړول دی دغه راز په درې نورو برخو کې هم کار کوي. ۱_ د ناروغ بیا فزیکي احیا. ۲_ اقتصادي احیا، ۳_ ټولنې ته دهغه وړاندې کول د یوه سالم شخص په توګه. ددې روغتون یوه ځانګړتیا داده چې هغه معیوبین چې د کار وړتیا لري روغتون ته د کارکوونکی په توګه جذبیږي زموږ د روغتون نوي فیصده کارکوونکی معیوبین دی دغه راز موږ نورو موسسو سره هم اړیکي لرو څو چې معیوبینو ته یې کار ومومو. په همدې ډول د معیوبینو سره موږ قرضه او پور هم په پام کې نیولی دغه پور معیوب ته د کار د پیل لپاره ورکول کېږي. خو دا مرسته د نغدو پیسو په ډول نه دي بلکې د هغه کار لپاره چې معیوب یې کولې شي د وسائیلو برابرول دي لکه، د ګنډولو ماشین ، د ترکاڼی وسایل د راکړې ورکړې وسایل او نور. د هغو ناروغانو لپاره چې له ولایتونو او لرو سیمو څخه راځي لیلیه او د اوسیدلو ځای په پام کې نیول شوی او دوی ته لازم روغتیایي خدمتونه سرته رسیږي. موږ د جلال آباد، مزار شریف، هرات، ګلبهار او فیض آباد په ښارونو کې هم ورته مرکزونه لرو چې د هغو سیمو د معیوبینو لپاره خدمت کوي.

تر اوسه پورې څه نا څه ۲۸۰۰۰ ناروغان زموږ په مرکز کې راجستر شوی چې ځینې یې تر درملنې او جراحي عملیاتو لاندې نیول شوی او ځینو ته مصنوعي اندامونه. بایسکیلونه د لاس لرګي او نور د ضرورت وړ شیان ورکړ شوی.

دغه راز د فلج ناروغانو لپاره موږ ځانګړې ټیم لرو چې هغوی په کور کې تر کتنې او معاینې لاندې نیسي دغه راز هغوی سره د ټپ په درملنه. سپورتي حرکتونه او نورو مراقبتونو کې مرسته کوي په همدې ډول له دا راز ناروغانو سره اقتصادي مرسته هم کېږي د بېلګې په ډول دوی ته لومړنی د ضرورت وړ مواد اخستل کېږي او ددوی روغتیایي کتني د لابراتواري کتنو په ګډون سرته رسیږي.

عبدالله وزیري چې په خپله هم یو معیوب دی د ځان په هکله وایي ما مخکې تر معیوبیت دولتي دنده درلوده او کله چې دې روغتون ته راغلم نو ما د فیزوتراپي کورس ولوسته او په دې مرکز کې ددندې لپاره جذب شوم.

دې وایي زموږ روغتون ته د ورځې له ۱۵ نه تر ۲۰۰ ناروغان مراجعه کوي چې څنې ئې زموږ پخواني راجستر شوي ناروغان او تر پنځه ویشتو تنو پورې نوی ناروغان راځي. زموږ روغتون یواځې د نړیوال سره صلیب له لورې تمویلیږي او اوس ددوه سوو تنو په شاوخوا کې کارکوونکی دلته په کار بوخت دي.

محمد شفیق حقپال

تلویزیون در خدمت طبابت

در این اواخر یکی از کشورهای اروپایی تلویزیونی را در خدمت علم طبابت قرار داده است که با استفاده ازآن انواع عمل های جراحی و طبابت دندان صورت می گیرد.

با فعالیت این تلویزیون دوکتوران تازه کارو کم تجربه نیز قادر شده اند تا عملیات های مغلق و پیچیده را به سر رسانند.

به طور مثال:

دوکتور جراح که می خواهد عملیات مغلقی را انجام دهد میتوانند با استفاده از تلویزیون یادشده یکی از متخصصین جراح را که در شهر دیگری قرار دارد حتی خارج از سرحدات از طریق امواج در جریان قرار دهد. که در تمام لحظات متخصص مذکور ناظر و رهنمای عمل اجرا شده می باشد.

چین عمل برای اولین بار در پاریس انجام شد. در حالیکه دوکتور مشاور و ناظر در شهر بورک فرانسه قرار داشت.

د وراثت د انجینری پوهه

هغه حجری چې دانسان جسم جوړوي لسو تریلیونو (۱۰۰۰۰۰۰۰۰۰) ته رسیږي چې هره حجره ځانګړې دنده لري هره حجره د هګیو درلودنکی ده چې ۴۴ کروموز مه احتوا کوي هر کروموزوم له سلو زرو نه ډېر (۱۰۰۰۰۰) ژنونه لري چې دغه ژنونه په ژوندیو حیواناتو کې د وراثت عوامل څرګندوي، د وراثت علم هغه قوانین څیړي چې طبیعي خاصیتونه له پلرونو نه اولادونو ته په ژوندیو ژوو کې (انسان، حیوان، نبات) د کلونو په اوږدو کې لیږدوي.

د وراثت انجینری علم د اوسني عصر د مهمو پر مختګونو څخه ګڼل کېږي چې انسان د اتوم له ماتولو وروسته په هغه بریالی کېږي نو ځکه یې دغه علم ته دریم صنعتي انقلاب وایي. د وراثت علم په حقیقت کې هغه ور دی چې پوهانو ته د حیات او ژوندانه د اسرارو د پوهېدو لپاره لاره او آروي څو چې د کائناتو په جوړښت پوه شي او له هغه نه د بېلابېلو علمي،روغتیایي، کرنیزو او نظامي چارو لپاره ګټه واخلي.

په هېواد کې د ښځو روغتیايي چارې پاملرنه غواړي

تېرو جګړو ډېرې ناخوالې موږ ته په میراث پرې ایښې یوه له دغو ناخوالو څخه د ښځو او هغو میندو ډېره مړینه ده چې د ماشوم د زیږدولو په وخت کې ورپیښیږي.

دغه ستونزه په تېره د هېواد په لرو پرتوسیمو کې ډېره لیدل کېږي، ځکه روغتیایي خدمتونه په ټول هېواد کې لږدي خو په لرو پرتو سیمو کې په نشت شمېرل کېږي. یو شمېر بهرنی موسسې په دې اړه کار کوي او په بېلابېلو سیمو کې وقایوي زده کړي خلکو ته ورکوي خو سره له دې هم دا بیخي نا کافي دي.

دولت او دعامې روغتیا وزارت په دې هکله باید ډېره پاملرنه وکړي. زموږ ناروغان نه یواځې د ناروغې له کبله له مړینې سره مخ کېږي. دغه راز ډېر شمیر د اوسنې عصر د طب له پرمختیا سره سره ډېر دردونه ګالي.

د بېلګې په ډول که چېرې په هغو سیمو کې چې روغتیایي خدمتونه نشته او دا سیمې په افغانستان کې بیخي ډېرې دي یوه ښځه په اولاد ناروغه شي، لومړی خو دهغه افغاني غرور له امله چې لري هیچا ته نه وایي او بیا کله چې درد پرې ډېر شي نو د سیمې زړی ښځې چې هیڅ ډول روغتیایي زده کړې نه لري یواځې د تجربې خاوندانې دي د دوی مرستې ته ورداننګي چې داکار له نن څخه په سل هاوو او زرهاوو کاله مخکې وختونو کې هم دود و چې په دې صورت کې یا ناروغ له منځه ولاړ شي یا هم ډېر دردونه وګالي. روغتیایي چارې د افغانستان د ټولو خلکو لومړنی حق دی چې د دولت او د روغیایي چارو مسولین په کلکه پاملرنه باید ورته وکړي.

یونسزی

خوبست بدانیم

چگونه میتوان از پوکی استخوان جلوگیری کرد؟

پوکی استخوان از نظر تعریف یعنی تراکم استخوانی به نحوی که سبب ضعف و شکنندگی استخوان ها می شود. این مسله گاهی آن قدر جدی است که می توان بدون این که خبر کند، سبب شکستگی های ناگهانی استخوان ها شود، بطور مثال در حال. که خم شده ایدو می خواهید روزنامه را از زمین بر دارید و یا سرفه کنید.

بر اساس مطالعاتی که در امریکا صورت گرفته، سالانه یک ونیم میلیون شکستگی در اثر پوکی استخوان بوجود میاید. که عمدتاً در نواحی ستون فقرات، لگن و بند دست رخ میدهد. تقریباً در مورد نیمی از خانم های بالای پنجاه سال یا بیشتر از آن احتمال حد اقل یک شکستگی به این علت وجود دارد.

عوامل و زمینه های:

پوکی استخوان در خانم ها دو تا سه برابر شایع تر از مرد ها است. بر علاوه خانم های که دیر قاعدگی شان شروع شده و خانم های که زود تر کهن سال شده اند در معرض خطر بیش تری قرار دارند. همچنان در خانم های که جثه کوچکتر دارند احتمال بروز پوکی استخوان بیشتر است.

تشخیص : در مورد تشخیص پوکی استخوان نکته بسیار مهمی که باید مورد توجه و تاکید قرار گیرد این است که اگر فرد پوکی استخوان شدید داشته باشد در حدی که سبب شکستگی های خود به خودی شود، حتماً با یک عکس معمولی از هر کدام از استخوان ها قابل تشخیص است.

عوارض پوکی استخوان:

درد های استخوانی و درد های مزمن در ناحیه گردن و کمر.

شکستگی های استخوان در ناحیه ستون فقرات، لگن خاصره و بند دست.

(شکستگی های ستون فقرات ممکن است خود به خود رخ دهند و در دراز مدت سبب کاهش قد وخمیدگی پشت شوند.

شکستگی های لگن بسیار مهم اند و در خانم های باسنین بالا به دلیل عوارض سبب مرگ های زود رس خواهند شد. شکستگی های بند دست در خانم ها با زمین خوردگی و با نیروی کم تری در مقایسه با مردان رخ می دهد.

تداوي:

اگر در مرحله بعد از پیری هستید در این شیوه تداوی توصیه می شود.

گفتی است این تداوی کاهش خطر مریضی های قلبی و الزایمر را نیز سبب می شود.

ورزش مداوم و مرتب بسیار موثر است. گفته می شود خانم های که در روز حدود ۳۰ تا ۶۰ دقیقه پیاده روی می کنند. چار تا هفت برابر ذخیره استخوان بیش تری خواهند داشت.

دریافت کلسیم و به مقدار کافی پروتین مناسب در غذا ها و در نیز مصرف آنها به شکل دوا، کلسیم علاوه بر استخوان ها برای دندان ها، خون، تنظیم ضربان قلب و ترشحات هور مونی بدن مورد نیاز است و باید روزانه به میزان ۱۲۰۰ ملی گرام در زنان به طور معمول و در مرحله پیری ۱۵۰۰ ملی گرام مصرف شود. ویتامین D نیز به عنوان عامل همراه و مهم استخوان سازی همواره باید در رژیم غذایی وجود داشته باشد. بنا بر این مصرف دایمی و مرتب شیرو پنیر، ماست، ماهی ونان خشک به عنوان منبع غنی این مواد توصیه می شود.

تعین مقدار انسولین خون به طور ساده

یک شرکت امریکایی آله کوچکی را به بازار عرضه نموده است که اشخاص مبتلا به مرض شکر (دیابت) با داشتن آن میتوانند بدون درد سر مقدار (انسولین) خون شانرا در ساعات مختلف روز اندازه نمایند.

برای این کار تنها یک قطره خون را باید بالای کاغذ مخصوص قرار داده به ماشین سپرد تا بعد از چند لحظه مقدار انسولین خون خویش را دانسته باشیم.

حسیب نوري

این افراطیت است که بازهم .....

در جمع دوستان هر که از هر کجایی چیزی نو تری می آورد و ما سراپا گوش، بودیم با پند بزرگان در سر که "در بساط نکته دانان خود فروشی شرط نیست"

یکباره صدایی از پرده رادیو، هیاهو افگند در بساط غنیمتی که گاه گاه از فیوض آن سود می بریم: تعمیر ریاست امر باالمعروف و نهی از منکر در شهر کندهار را از بیخ و بن بر کندیم، چون مایه تنفر بود.

این صدای شاروال صاحب شهر کندهار بود، که از دست آورد ها و کارکرد های اداره مربوط داد سخن میداد و رادیو صدای امریکا آنرا در جمع افتخارات اربابش در راستای انتقام کشی از طالبان شمرده و "هوا" می داد. نمی دانم چرا از نهادم سر زد: "آخ که بازهم بخاطر شپشی پوستین می سوزند" فرزانه یی از اهل مجلس که اشک در چشمانش حلقه زده و نگاهایش سکوتم را تحکم می کرد، لب گشوده گفت:

این افراطیت است که لبه برنده تیغ و تبرش را یکبار دیگر بر ریشه ما کوبیدن گرفته با آنکه از سالیان درازی بخصوص طی سه دهه اخیر رنج و درد فراوانی از شومي این پدیده پلید، چشیده و کشیده ایم با آنهم هیچ نیاموخته و عبرتی نپذیرفته ایم.

بیاد داریم زمانی که پنجاه در صد عواید ملی مانرا رنگ سرخ می خریدیم و از استعمال آن در هیچ کجای دست نمیگرفتیم. مرد و زن سرخ پوشیدیم، سرخ گفتیم، سرخ سفتیم، سرخ خوردیم، سرخ نوشیدیم، سرخ نوشتیم و سرخ خواندیم و بودند سرخ تر های از ما که حتی چارپایان شانرا سرخ کرده و سوار بر آن ها لقب سرخ تری کمایی کردند.

با آنکه سر خ، رنگ خون ملت آزاده مان بود که از جای نماد فداکاری و جانبازی در سمبول هویت مان سرافرازی داشت اما افراطی گری ها ما سبب شد که نه تنها سنگ و کوه و دشت و بیابان این وطن بلکه شهر، شهر، ده، ده، و قریه، قریه ما چون تنور سرخ گردد و خشک و تر ما را بیدریغ ببلعد، و از آنجاییکه هر پدیده ای از قرار قانون طبیعت ضد یا اضدادش را در بطن خودش می پرورد، نفرت مان از سرخ به حدی رسید که حتی اصالت و حقیقت آنرا در وحدت ملی مان نفی کنیم و بجایش روی سبز آنقدر پافشاریم که دیگری سبزی را وطن نمانیم از سر سبز تا سبزه لب جو را با افراط اندیشی های مان سرزدیم و بی آنکه سبز شویم و به سبز برسیم و یا از سرخ حساب بگیریم در پیوند با آن به سیاهی نشستیم و زاینده سیاهی شدیم. شاید در اینجا هم قانون طبیعت کار خودش را کرد و یا حکم ترکیب رنگ ها چنین رفته بود (سرخ + سبز = سیاه) از سیاه چه گله که سیاه است و سیاهی می آفریند. اما روی سیاهی ما به جای کشید که ریشه درخت از بیخ کشیم و بنیاد هر هستی و آبادی حتی تندیس ها را بر افگنیم با جذب هر پلیدی از هر کرانه دنیا در خود. سیاه تر شویم تا لکه ننگی باشیم بر دامن تاریخ، **هیولایی** شویم در جهانی که مردمانش زنده گی و زیست باهمی را زیبا پذیرفته مقدومش را گلباران می کنند لجاجت مان ادامه یافت تا آنکه رنگ مان به رنگ دنیا نه نشست و تحمل مان از توان ها بیرون زد، دست بکار شدند و چاره کارمان چنان کردند که در صد حلقه درگیر بمانیم.

این بار هم گرچه ما نمی خواستیم و سیاه تر از سیاه خودمان را رنگ کرده و در پی انتشار رنگ مان بیدرنگ افتاده بودیم اما نظام هستی نونش را بازهم تطبیق کرد و از پی شب روز و از پشت سیاهی سپیدی را نوید داد.

و ما زود زود دست و رو شستیم به این گمان که سپید پنداشته شویم. یکی از سر، دیگری از تن، یکی از رو و دیگری از دست سیاهی برداشتیم و غافل از آنکه زیر سیاه نهفته های که داشتیم سپید نبود. ما خود از قبل آنرا نمایی سرخ و یا سبز کرده بودیم و حال همان رنگ هاست که خود دارد.

صلاح الدین

غزلی از جلال الدین ارجمند- مولانا

بنمای رخ که باغ و گلستانم ارزوست
بکشای لب که قند فراوانم آرزوست
ای آفتاب حسن برون آ، دمی ز ابر
کان چهرهء مشعشع تابانم آرزوست
بشنیدم از هوای تو آواز طبل باز
باز آمدم که ساعد سلطانم آرزوست
گفتی ز ناز بیش مرنجان مرا برو
آن گفتنت که پیش مرنجانم آرزوست
این نان و آب چرخ چو سیل است بی وفا
من ماهیم نهنگم، عمانم آرزوست
یعقوب وار و اسفا ها همی زنم
دیدار خوب ئوسف کنعانم آرزوست
و الله که شهر بی تو مرا حبس میشود
آواره گی کوه و بیابانم آرزوست
زین همرهان سست عنَاصر دلم گرفت
شیر خدا و رستم دستانم آرزوست
گویا ترم ز بلبل اما ز رشک عام
مهر است بردهانم و افغانم آرزوست
دی شیخ با چراغ همی گشت گرد شهر
کز دیو و دد ملولو و انسانم آرزوست
گفتم که یافت مي نشود جسته ایم ما
گفت آنک یافت می نشود آنم آرزوست

پښیمانی

چې په ما باندی راوستی دغه ورځ ده
خدایه ته یې ځوانیمرګ کړي
خپله موری کړی یي بوره
نه توبه، توبه ای خدایه
زما په خوله کی دی شی دغه ژبه ګونګه
بس دی، بس دی چی دا زه شومه بي زویه
بس دی، بس دی، چی دا زه شولمه بوره

اجمل تورمان

اعلامیه مطبوعاتی

سفارت ایالات متحده امریکا
۲۳ دسمبر سال ۲۰۰۲
متن اعلامیه مطبوعاتی وزارت خارجه
اعلامیه حسن همجواری افغانستان در راس موفقیت های امسال قرار داشت

یک سال از تاسیس دولت جدید افغانستان میگذرد. افغانستان طی سال گذشته بطور منظم پیش رفته است. اولین حکومت انتقالی توسط لویه جرگه به توافق تمام مردم افغانستان تصویب گردید. در لویه جرگه هر نوع نظریات مردم شنیده شد که پیغام دموکراسی از همه بلند تر بود. اضافه تر از دو ملیون مهاجر افغان به وطن عودت نموده اند که این یک رای حیرت آور اعتماد آنها به تامین آینده خوب برای کشور شان است. رئیس جمهور حامد کرزی دولتی را اساس گذاشته است که با شصت کشور جامعه بین المللی کمک کننده در بازسازی افغانستان بطور سازنده در تماس است. سرک ها اعمار میگردد، مکاتب باز است، دختران یکبار دیگر به مکاتب راه یافته اند و افغانها نشانه های امنیت را مشاهده میکنند که زنده گی عادی شان ایجاب میکند. سال گذشته برای تمام افغان ها یک سال پر افتخار بود و آنها اکنون به افغانستان مرفه تر و سعادتمند تر امیدوار اند.

افغانستان در جهت حصول عضویت کامل جامعه بین المللی بتاریخ ۲۲ دسمبر قدم دیگری به جلو برداشت، چنانچه افغانستان و شش کشور همسایه اش اعلامیه حسن همجواری کابل را بخاطر احترام به آزادی و تمامیت ارضی افغانستان به امضا رساندند. مراسم امضای این اعلامیه با سالروز گذشت یک سال از تاسیس حکومت نماینده در افغانستان مصادف بود. موفقیتی که در نتیجه کار مشترک افغانها و جامعه بین المللی بدست آمد.

امنیت داخلی افغانستان مربوط به همکاری، احساس نیک و عدم مداخله ممالک همسایه آن میباشد. ایالات متحده امریکا از کوشش های حکومت افغانستان تحت قیادت رئیس جمهور حامد کرزی بخاطر استقرار سلطه و اداره خوب خویش در سرتاسر کشور جداً حمایت نموده و خواهان تعهد کشور های همسایه و رهبران محلی جهت حصول این هدف است.

ایالات متحده امریکا و همراهان بین المللی اش متعهد است تا به افغانها کمک کنند که یک کشور مرفه، دموکراتیک، در صلح با خود و همسایه گانش، کشور دارای بازار آزاد و احترام به حقوق زنان را به میان آرند. ما سهم خویش را بخاطر حصول این اهداف ادامه خواهیم داد. منحیث یکی از همراهان افغانستان نخستین سالگرد آزادی را به تمام مردم افغانستان تبریک میگویم.

اراده از شما و در خدمت شما

اراده در جهت ایفای نقشش که خدمت به وطن و هموطنان عزیز است و اکنون به عنوان روزنامه، به تیراژ بلند در دسترس قرار دارد تصمیم به برداشتن گام بی سابقه یی در عرصهء مطبوعات و اعلانات گرفته است.

اراده نشر اعلانات مفقودی اطفال، مریضان دماغی، کمک های موسسات خیریه، سره میاشت و وزارت های معارف، شهدا و معلولین و امور مهاجرین را رایگان به نشر می رساند.

اراده از نشر اعلانات فوتی، مراسم فاتحه خوانی هموطنان و عرضه خدمات اجتماعی رایگان دولتی و شخصی و مفقودی اسناد هویتی هموطنان صرف و صرف مصارف چاپ را تقاضا می کند.

.اراده اعلانات سایر دوایر و ارگان های دولتی را پا پنجاه فیصد تخفیف می پذیرد.

اراده اعلانات تجارتی و تبلیغاتی تجار ملی موسسات و انجو های داخلی و خارجی را با سی در صد تخفیف به نشر می سپارد.

اراده مشوره های مسلکی را در ترتیب اعلانات و تهیه عکس براس آنها به گونه رایگان عرضه میدارد.

د بی وسلې کولو.....

پروګرام پیل کړي.

ښاغلی سنګ وایي چې ملګرو ملتونو له تیرو څو میاشتو را هیسي د افغانستان په شمالی ولایتونو کې د بې وسلو کولو د پروګرام څارنه کوي خو تر اوسه یې بریالی نتیجه نه ده ورکړې. تیر منی د ولسمشر بوش ځانګړي استازي زلمي خلیل زاد قوماندان عطا محمد او جنرال عبدالرشید دوستم ته اخطار ورکړلو که چیرې له مرکزي حکومت سره بشپړه همکاري ونه کړي د متحده ایالاتو له مرستو او همکاریو به بې برخې شي.

امریکا به شمالی کوریا ته.....

اقتصادی، سیاسی، دیپلوماتیکی او بالآخره نظامی لارو څخه کار اخستلای شی مګر موږ نه غواړو چې پدی وخت کی د شمالی کوریا سره بحرانی حالات ایجاد کړو، ده د دی پوښتنی په ځواب کی چی متحده ایالات حاضر دی د شمالی کوریا سره خبری وکړی وویل:

کیدای شي دواړه خواوی سره خبری وکړی مګر د مستقیمو مذاکراتو امکان نشته.

موږ حاضر یو چی د شمالی کوریا سره خبری وکړو، خو شمالی کوریا باید د ذروی پروګرام د شنډولو په عوض کی د امتیازاتو غوښتنه ونکړی، هغه خبرداری ورکړ چی شمالی کوریا ته به د هغه هیوادنه د مفتشانو د ویستلو او د ذروی فابریکو د بیا چالانولو په بدل کی هیڅ ډول امتیازات ورنکړ شی.

ښاغلی پاول زیاته کړه:

څه چی دوی غواړی هغه مذاکرات نه دی، دوی یوه داسی معامله غواړی چی موږ باید دوی ته یو څه ورکړو چی دوی نور بد کارونه ونکړی.

د امریکا د مشرانو د جرګی یوه مشهور دموکرات سناتور وویل:

شاید د بوش حکومت د دغی ستونزی په راپورته کولو کی مرسته کړی وی، کله چی ښاغلی بوش دوه کاله مخکی قدرت ته ورسید نو د شمالی کوریا سره ئی خبری قطع کړی چی دا یو ډیر غلط کار و.

افزون از یکهزار و چهارصد زن و.....

بیشتر در مناطق شمال کشور و بخصوص شهر مزارشریف متمرکز بوده است.

از آنجاییکه هدف موسسه ما را کمک به زنان و دخترانی که سر پرست و نان آور خانواده هایشان را از دست داده اند تشکیل میدهد، کوشیده ایم زمینه های کار آموزی و کسب مهارت های مسلکی برای این دسته زنان و دختران را فراهم سازیم، تا بتوانند از این طریق به خود کفایی دست یابند و آموزش حرفه ای زنده گی آبرومندانه خویش را خود متکفل شوند. تاکنون توانسته ایم افزون از یکهزار و چارصد زن و دختر را آموزش دهیم.

محترمه فهیمه همراه در پاسخ به یک پرسش دیگر خبرنگار ما افزود:

با عادی شدن وضع در کابل و سایر ولایات کشور فعالیت های موسسه ما انکشاف یافته است و اکنون ما چار پروژه در شهر کابل و اطراف آن، دو پروژه در ولایت لوگر، دو پروژه در ولایت میدان وردک رویدست داریم. که چارصد و پنجاه تن از زنان بیوه و دختران یتیم در آنها تنظیم شده و مصروف فراگیری حرفه های چون کمپیوتر، صابون سازی، بسکیت سازی، تولید مکرونی، خیاطی، گلدوزی، قالین بافی، کارکن صحی (هلت ورکر) و آموزش زبان انگلیسی میباشند، قابل یاد آوری میدانم که آموزش سواد و مدد معاش ماهوار ده دالر را برای شاملین همه کورس ها در نظر گرفته ایم و در ختم هر کورس وسایل کار را برای فارغین کورس ها توزیع میداریم.

مسوول موسسه اوارد در رابطه با سائر فعالیت های موسسه چنین گفت:

علاوتاً کار یک پروژه ساختمانی (ساختمان یک باب مکتب)، پروگرام کار در مقابل غذا، پاک کاری کاریز ها و توزیع گندم برای بیوه زنان توسط موسسه ما از پیش برده میشود

In this issue:

1)-The program of disarming resumes in northern provinces of Afghanistan
2)-This is the extremism, which is getting busy
3)-The winter passes, but……………..
4)-Publication statement of the foreign ministry of the United States
5)-Everyone performs their duties
6)-The very cold winter and needs of the people
7)-We have paved the way for 450 women and girls to learn …
8)-(Hosni hamjawari) a phenomenon
9)-Too many promises, need of action
10)-Tow million returned refugees are very needful
11)-Harrowing strikes in Turkey
12)-poems
13)-Health page

اراده
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
سکرترمسوول: سید محمد "عادل"
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
ERADA
Daily
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
کمپوز و دیزاین: محمد ناصر"هاشمي" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
قیمت یك شماره ۷ افغانی

ACKU